




---

د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغاني » لیکنه

د نشر نیټه : 2 می 2023 میلادی

# زړه ته خطاب

تر څو به د خپلی هوا او هوس لپاره دومره مشکلات او ستونځی زغمی ؟
ته... هو : ته په یاد لری او که نه ! هغه خاطرات ؛ هغه ورځی او شپی ، هغه خواږه اشنایان ، هغه د لطف او نزاکت او شوخی مجلسونه ؟
ولاړل ، تیر شول او تیریږی ! یقین لرم چی ته هغه له یاده نشی ویستلی ، ځنګه هغه ستا په ژوند پوری پوره اړه لري.

**ای زما زړه !!! او ای د خلکو زړونو !!!**
پو هیږم چی هڅی ، تلوسی او امیدونه لری، او د خپلو پریشانیو او کړاونو له لاسه ځوریږي.
یقیناً چی تاسو زیاتی هڅی او هیلی لری نو ځکه د ستاسود هیلو او هڅو په خاطر د زوړنو احساس او عواطف غواړم .

**ای زما د ځان ملګریه زړه !!! ای د عشق او د مینی مرکزه !!!**
هغه عشق و مینه چی تا د خلکو څخه پټه ساتله فاش او رسوا شوه ځکه چی ستا د عشق او مینی پوره داستان د ریکاټ په مخ ثبت شو او د موسقی په دفتر کښنی ولیکل شو.
هو: ستاد ژوند خاطری د کتاب د پاڼو په مخ او د ریکاټ په پردو کښنی وساتل شو، لوستونکی ئی لولی او اوریدونکی ئی آوری او پوهیږی چی دا د استان د زړه عواطف او ملکوتي الهامات دی ، دا د وطن ، ملک ، قام ، قبیل او د ملت د نهضت او پر مخ تګ د پاره امیدونه ، هیلی او هڅی دی ، دا د هغه ارمانونو معراج دی کوم چی د ډیرو کلونو څخه وروسته په لاس راغلی دي.

**ای زما ګرانه زړه !!!**
ته هغه با نعمت وقیمتي شی ئی چه د الهی د محبت او مرحمت نور تا ته حرکت، قوت او برکت در کوی ! نو اوس هو .. اوس عهد وکړه چی د ځان او دخلکو د خدمت د پاره میني ، محبت ، عشق او جذبی ته ادامه ورکړی تر څو د هغه مخکښنی تللی قافلی ته په ډیر زور او قوت سره ځان ورسوی ، کوم چه د انسان د خیر او مصلحت، سعادت او اسایش لپاره زمینه او وسایل برابره وی .

***

سعید افغاني
کابل ـ ۱۳۵۵ هجری شمسی

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی

---